# د ۲۰۲۴ کال لپاره په ابتداییه ښوونځي کې نوم لیکنه



د ښوونځي پیل د ماشومانو، والدینو او پالونکو لپاره یو په زړه پوري وخت دی. موږ غواړو چې ستاسو لپاره د نوم لیکنې پروسه څومره چې امکان ولري اسانه کړو.

په ویکتوریا کې، ستاسو ماشوم حق لري چې د سیمي نوماند شوي ښوونځي ته (ستاسو د سیمي ښوونځي) د *ښوونځي او روزني د تعدیل قانون ۲۰۰۶* پر اساس ولاړ شي.

تاسو کولی شئ یوه ښوونځي ته چې سیمه ییز ښوونځی نه وي غوښتنلیک واستوئ. ښوونځي به ستاسو غوښتنلیک د شاملیدو د پالیسي پر اساس په پام کې ونیسي. د شاملیدو پالیسی په اړه د نورو مالوماتو لپاره، [په ښوونځي کې د نوم لیکنې] ویبپاڼه وګورئ.

## د بنسټ لپاره په ټول ایالت کې نوې مهالویش (چمتووالی)

د ابتداییه ښوونځي لومړي کال ته بنسټ یا چمتووالي ویل کیږي. موږ د ویکتوریا ټولو دولتي ابتدايي ښوونځیو لپاره د نوم لیکنې نوی مهالویش خپور کړی دی (۳ پاڼه وګورئ). د مهالویش موخه دا ده چې تاسو سره مرسته وکړي چې پوه شئ چې کله او څنګه خپل ماشوم د ۲۰۲۴ ښوونیز کال لپاره په بنسټ کې شامل کړئ.

## **څه وخت باید خپل ماشوم د لومړني ښوونځي په لومړي کال کې شامل کړم؟**

ستاسو ماشوم باید د اپریل ۳۰ پورې په هغه کال کې چې دوی ښوونځی پیل کړي ۵ کلن وي.

ښوونځي د هغو ماشومانو لپاره اجباري دی چې عمر یي ۶ کاله شي.

د ۲۰۲۴ ښوونیز کال لپاره د ویکتوریا په دولتي ابتدايي ښوونځي کې د خپل ماشوم د نوملیکنې لپاره، د ۲۰۲۳ کال د جولای تر ۲۸ جولای پورې ښوونځي ته د نوم لیکنې غوښتنلیک وسپاري.

## زه څنګه خپل ماشوم د ابتدايي ښوونځي په لومړي کال کې شامل کړم؟

دا ګامونه واخلئ تر څو خپل ماشوم د ابتدايي ښوونځي په لومړي کال کې شامل کړئ.

1. د خپل ښوونځي موندلو ویب پاڼه کې خپل سیمه ییز ښوونځی ومومئ (لاندې وګورئ).
2. د ښوونځي د علمي سفر یا د ښوونځي په اړه د نورو مالوماتو د ترلاسه کولو لپاره د حکومتي ابتداییه ښوونځي سره اړیکه او وخت ونیسي.
3. د بنسټ (چمتووالي) د شاملیدلو مالوماتي بستې د [شاملیدلو د بنسټ (چمتووالي)] داونلوډ کړئ، (د ۲۰۲۳ کال د اپریل له ۲۴ څخه شتون لري).
4. د ۲۰۲۳ کال د جولای ۲۸ د جمعې تر ورځې پورې د بنسټ لپاره د نوم لیکنې غوښتنلیک وسپارئ.
5. **5.** تاسو ته به ۲۰۲۳ کال د اګسټ 11د جمعې ورځې پورې ستاسو د غوښتنلیک د پایلي خبر درکړل شي. که تاسو ته د شاملیدو وړاندیز تر لاسه کړئ، تاسو باید د ۲۰۲۳ کال د اګسټ ۲۵ د جمعې ورځې پورې دا وړاندیز ومنئ.
6. **6.** د **۲۰۲۳ کال د ۴ دورې په موده** کې د نوم لیکنې مالوماتو او لیږد غونډو کې برخه واخلئ.
7. **7.** ستاسو ماشوم به د ۲۰۲۴ کال د جنوری په ۳۰ د سه شنبې په ورځ څخه به د بنسټ پیل کړي.

## زه څرنګه خپل سیمه ییز ښوونځی ومومم؟

خپل سیمه ییز ښوونځی د Find my School ویبپاڼه کې د لاندې ګامونو سره ومومئ.

1. په خپل براوزر کې findmyschool.vic.gov.au ولیکئ.
2. خپله دایمي پته د 'Enter your address to get started' لاندې ولیکئ.
3. تر ’Enrolment year‘ لاندې ۲۰۲۴ انتخاب کړئ. یادونه: ۲۰۲۴ د ښوونځي څونونه به د ۱ دورې د ۲۰۲۳ په اخرو کې شتون ولري.
4. د 'School type' لاندې ابتدايي غوره کړئ.

دا نقشه به ستاسو پته، ستاسو سیمه ییز ښوونځی او په کیڼ اړخ کې د ښوونځي لپاره د اړیکو جزئیات وښیي. که تاسو لاندې سکرول وکړي، دا به تاسو ته ستاسو پتې ته نږدې پنځه ښوونځي هم وښیي.

تاسو کولي شي د 'Search for School' لاندې د ښوونځي نوم هم ولټئ.

## ایا زما ماشوم کولي شي دولتي ابتداییه ښوونځي ته غوښتنلیک واستوئ، چې زما سیمه ییز ښوونځی نه دی؟

هو، تاسو کولی شئ د خپل سیمه ییز ښوونځي پرته نورو ښوونځیو ته غوښتنلیک واستوئ. ښوونځي به ستاسو غوښتنلیک د شاملیدلو د پالیسي پر بنسټ او د شته ځاي سره سم په پام کې ونیسي. تاسو کولی شئ پدې اړه مالومات چې څرنګه غوښتنلیکونو ته په ښوونځي کې د نوم لیکنې لومړیتوب ورکول کیږي په ویبپاڼه کې ومومئ.

## که چیرې زه یو لیک ترلاسه کړم چې زما د نوم لیکنې غوښتنلیک ناکام وو نو څه شی به رامنځته شي؟

تاسو باید په بل ښوونځي کې د خپل ماشوم د شاملولو غوښتنه وکړئ. ستاسو د ماشوم لپاره د دوی په سیمه ییز ښوونځي کې د ځای شتون تضمیني دی. ستاسو د ماشوم سیمه ییز ښوونځی د دوی د دایمي استوګنې پتې پر بنسټ ټاکل کیږي. زما ښوونځي ومومئ ته مراجعه وکړئ تر څو ستاسو د ماشوم سیمه ییز ښوونځی ومومئ. په ښوونځي کې د شاملېدلو پاڼه ستاسو د ماشوم د پتې په تاییدولو کې د دوي د شاملیدلو لپاره ستاسو سره مرسته کولی شي.

تاسو کولی شئ د استیناف (اپیل) غوښتنه هم وکړئ. د شاملیدلو بنسټ (چمتووالي) پاڼه د شامیلیدلو د پریکړې د استیناف غوښتنې د پروسې په اړه مالومات لري.

## که چیرې زه د شاملیدلو مهالویش له لاسه ورکړم نو څه به رامنځته شي؟

تاسو کولی شئ د ۲۰۲۳ د ۲ دورې څخه په هر وخت کې د ۲۰۲۴ ښوونیز کال لپاره د خپل ماشوم د شاملیدلو غوښتنلیک بنسټ ته واستوئ.

په داسې حال کې چې ستاسو څخه غوښتل شوي وو، چې د شاملیدلو غوښتنلیک د ۲۰۲۳ کال د جولای تر ۲۸ د جمعې ورځې پورې وسپارئ، له دې نېټې وروسته به غوښتنلیکونه لاهم د هغو کورنیو څخه منل کیږي چې د شاملیدلو مهالویش یې له لاسه ورکړی وي، دایمي استوګنځي ته ځي یا ویکتوریا ته نوي راغلي وي.

د ۲۰۲۳ کال د جولای ۲۸ نېټې وروسته سپارل شوي د شاملیدلو غوښتنلیکونه به د وزارت د پالیسی پر اساس د ښوونځي لخوا پروسس شي څرنګه چې دوی ترلاسه شوي دي.

## په ابتداییه ښوونځي کې د نوم لیکنې په اړه نور مالومات چیرته ترلاسه کولی شم؟

تاسو کولی شئ د بنسټ د نوم لیکنې پروسې په اړه نور مالومات د خپل سیمه ییز ابتداییه ښوونځي څخه وغواړئ.

د ۲۰۲۳ کال د 2 دورې په پیل کې تاسو کولی شئ د بنسټ د نوم لیکنې پروسې په اړه د مالوماتو بسته د ابتدایي ښوونځي ویب یا په بنسټ کې د شاملیدلو (چمتووالی) پاڼې کې هم ومومئ.

که تاسو د مالوماتو بستې په ژباړولو کې مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د مرستې لپاره د خپل ابتدایي ښوونځي سره خبرې وکړئ.

## زه د مرستې لپاره له چا سره اړیکه ونیسم؟

د لیرد د همغږي کوونکي، د شاملیدلو کار کوونکي یا د ابتداییه ښوونځي مدیر چې تاسو ورته غوښتنلیک استول غواړئ چې د هرې پوښتنې په اړه چې تاسو د شاملیدلو پروسې په اړه لرئ مرسته کولی شي.

## ګټور لینکونه

مهرباني وکړئ لاندې ځینې ګټور لینکونه ومومئ چې کیدای شي ستاسو لپاره ګټور وي ځکه چې ستاسو ماشوم په ۲۰۲۴ کې ابتدایي ښوونځي پیل کوي:

زما ښوونځی ومومئ – findmyschool.vic.gov.au

د ښوونځیو د زونونو په اړه مالومات – vic.gov.au/school-zones

په بنسټ کې شاملیدل (چمتووالی) – vic.gov.au/enrolling-foundation-prep

په ښوونځي کې شاملیدل – vic.gov.au/how-choose-school-and-enrol

معلولیت او ټولشموله روزنه – vic.gov.au/disability-and-inclusive-education

سیمه ییزې دفترې اړیکې – vic.gov.au/office-locations-department-education-and-training

THE EDUCATION STATE | VICTORIA State Government | Department of Education

## د ۲۰۲۳-۲۴ لپاره مهالویش

| فعالیت | د ۲۰۲۳ نېټې |
|---|---|
| **۲ دوره: د ۲۰۲۳ کال د اپریل ۲۴، دوشنبې ــ د ۲۰۲۳ کال د جون ۲۳ د جمعې ورځې پورې** | |
| د ابتدايي ښوونځي د علمي سفر، مالوماتي ناستې او نور فعالیتونه د کورنیو لپاره ترسره کوي چې د ۲۰۲۴ لپاره د خپل ماشوم لپاره د شاملیدلو بنسټ (چمتووالي) په لټه کې دي. | **د ۲۰۲۳ کال ۱ او ۲ دورې** |
| د ښوونځي زونونه د ۲۰۲۴ ښوونیز کال په پیل کې د findmyschool.vic.gov.au پتې له لارې انلاین کیږي.<br>والدین/پالونکي کولی شي findmyschool.vic.gov.au پتې له لارې په ۲۰۲۴ کال کې خپل غوره شوي سیمه ییز ښوونځي ته مراجعه وکړي.<br>د شاملیدلو د مالوماتو بسته والدینو/پالونکیو ته د ډانلوډلو لپاره په (Enrolling in Foundation (Prep کې شتون لري. | **د ۲۰۲۳ کال د ۲ دورې په پیل کې** |
| کیدای شي د ابتدایه ښوونځي د شاملیدلو د مالوماتو بسته د ارونده کورنیو او د دوی ښوونځي ټولنې ته وویشي. | **د ۱ اووني، ۲ دورې ۲۰۲۳ څخه** |
| **د شاملیدلو غوښتنلیکونه پرانیستي دي** - والدین/پالونکي کولی شي خپل تکمیل شوي د شاملیدلو غوښتنلیکونه د حکومتي ابتداییه ښوونځي ته له دغې نېټې وسپاري. | **د ۱ اووني، ۲ دورې ۲۰۲۳ څخه** |
| **۳ دوره: دوشنبه ۱۰ جولايي ۲۰۲۳ ـ جمعه ۱۵ سپتمبر ۲۰۲۳** | |
| **د شاملیدلو د غوښتنلیکونو د سپارلو نېټه** - والدینو/پالونکیو دي خپل مکمل د شاملیدلو غوښتنلیکونه حکومتي ابتداییه ښوونځي ته وسپاري. | **تر جمعې ۲۸ جولايي ۲۰۲۳** |
| ابتداییه ښوونځي والدینو/پالونکیو ته په لیکنه خبر ورکوي د بنسټ (چمتووالي) د شاملیدلو پریکړه د وزارت د شاملیدلو د پالیسي پر بنسټ وي. دا کیداي شي د منلو یو لیک، یا د یوه ناکامه غوښتني لیک وي چې شاملېدل تایید کړي.<br>والدینو/پالونکیو ته چې د یوه ناکامه غوښتني لیک استول شوي وي، کولې شي یو د نه شاملیدلو استناف غوښتنه په خپل غوره شوي ښوونځي کې وکړي. | **د ۲۰۲۳ کال د اګست ۱۱ د جمعې ورځې پورې** |
| والدینو/پالونکیو ته د منلو لیک استول د دوی د ماشوم د شاملیدلو تر دې نیټې پورې. | **د ۲۰۲۳ کال د اګست ۲۵ د جمعې ورځ** |
| د والدینو/پالونکیو لپاره وروستی نېټه چې د یوې لیکلي استناف غوښتني د خپل غوره ښوونځي ته وسپاري. | **د ۲۰۲۳ کال د اګست ۲۵ د جمعې ورځ** |
| ابتدایه ښوونځي ټولو والدین/پالونکي ته په لیکلي بڼه تر دې نېټې پورې د دوی د نه شاملیدلو د استناف غوښتني پایلې په اړه خبر ورکوي. | **د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر ۱۵ د جمعې په ورځ** |
| **ترم ۴: دوشنبه ۲ اکتوبر ۲۰۲۳ ـ چهارشنبه ۲۰ دسمبر ۲۰۲۳** | |
| ابتداییه ښوونځي به د لیرد ناستې ولري | **د ۴ ترم، ۲۰۲۳ په موده کې** |
| **د پاي نیټه** د والدینو/پالونکیو لپاره چې یو لیکل شوي استناف غوښتني د ساحي دایریکتر ته وسپاري، چیرې چې دوی د خپل غوره کړي ښوونځي سره د ناشاملیدلو له امله پاتي راغلي دي. | **د 2023 کال د اکتوبر 20، د جمعې ورځ** |
| سیمې د دې نیټې پورې د سیمه ییز رییس د نه ځای پرځای کولو استیناف غوښتني پایلې په اړه په لیکلي ډول ټولو والدینو / سرپرستانو ته خبر ورکوي. دا یوازې هغه غوښتنلیکونه دي چې د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر تر ۲۰ نېټې، جمعې ورځې پورې دوی ته رسیدلي دي. | **تر جمعې ۱۷ نومبر ۲۰۲۳** |